Kartläggningsmaterial för nyanlända elever

PASHTO

# Uppgifter B Textpaket
## Litteracitet

1 Steg 2 3

### Elever som läser och skriver



Skolverket



# Innehåll

**Inledning** ........ **3**

**Textpaket 1**

Lejonet och räven ........ 5

En karta över en ö ........ 7

Skorpionen ........ 9

**Textpaket 2**

Skorpionen ........ 12

Den giriga mannen ........ 14

Potatischips ........ 16

**Textpaket 3**

Skorpionen ........ 19

Potatischips ........ 21

Sömn ........ 23

Mjölk ........ 25

Världens städer ........ 27

**Litteratur- och bildförteckning** ........ **29**

Skolverket och andra rättighetsinnehavare har upphovsrätt till materialet och delar som ingår i materialet. Materialet får inte mångfaldigas eller sparas på dator i annat syfte än för att genomföra en bedömning av nyanlända elevers kunskaper.



# Inledning

Detta häfte innehåller underlag för *Uppgifter B – Textpaket*. Uppgifterna använder du tillsammans med *Samtals- och dokumentationsunderlag B* och *Bedömningsunderlag för Uppgifter B.*

Instruktionerna för hur du genomför uppgifterna finns i *Samtals- och dokumentationsunderlag B.*

Dokumentera elevens svar på uppgifterna i bedömningsunderlagen. Var uppmärksam på att svarsrutorna för ”Ja” och ”Nej” kommer i en annan ordning på elevens svarsblad när språket har läsriktningen höger–vänster.

Varje uppgift består av två blad – en text och elevens svarsblad med läsförståelsefrågor. Information om hur du väljer uppgifter till eleven finns i lärarhandledningen (se s. 6–7). Skriv ut uppgifterna i färg och enkelsidigt så att eleven kan se texten och frågorna samtidigt.

Ge gärna tolken kopior av uppgifterna du har valt, både på svenska och på elevens språk.

## Om översättningen

Översättningen använder den varietet av pashto som enligt lag används som skolspråk och för övrig undervisning i Afghanistan. Talad pashto har i Afghanistan flera olika, och sinsemellan på ordnivå starkt varierande dialekter. Olika talare kan därför uppleva att de inte känner igen ord eller fraser. Det betyder emellertid inte att de är felaktiga utan att det var omöjligt att hitta en översättning som passar alla. Var därför särskilt uppmärksam på att eleven har förstått centrala ord i uppgifterna. Pashto använder en modifierad variant av arabisk skrift och läs- och skrivriktningen är från höger till vänster. Var därför särskilt uppmärksam när du för över elevens svar på kryssfrågorna till bedömningsunderlaget eftersom kolumnerna för ”Ja” och ”Nej” skrivs i omvänd ordning.

## Anpassning av uppgifter för elever med funktionsnedsättning

Om du läser upp eller spelar in uppgifter för elever med svår synnedsättning behöver du anpassa uppgifter som innehåller bilder eller figurer. Kontakta en speciallärare eller specialpedagog om det behövs.

### Textpaket 1

- Text 1. Lejonet och räven. Beskriv innehållet i bilden.
- Text 2. En karta över en ö. Uppgiften stryks.
- Text 3. Skorpionen. Beskriv skorpionen i bilden. (Ingår även i textpaket 2 och 3)

### Textpaket 2

- Text 3. Potatischips. Använd riktiga potatischips. (Ingår även i textpaket 3)

### Textpaket 3

- Text 3. Sömn. Figuren kan strykas. Frågorna 3 och 4 som bygger på information i figuren stryks.
- Text 5. Världens städer. Diagrammet kan strykas. Frågorna 2 och 4 som bygger på information i diagrammet stryks.

Läs mer i *Anpassning för elever med funktionsnedsättning.*

# Textpaket 1



# زمری او ګیدړه

زمری په خپل غار کې پروت و.
هغه به شپه او ورځ هلته پروت و.
د هغه یواځې کمزوري او ستومانه غړمبار اورېدل کېدل.
نورو ژوو فکر کاوه چې ناروغه دی او زړه یې پرې خوږېده.
هغوی یو یو د کوچنیو ډالیو سره د زمري غار ته ننوتل پیل کړل.

خو ګیدړه دننه نه شوه.
زمري ترې په خواره خوله وپوښتل چې ته ولې نه راځې ملګرې؟ هغه نور ټول زما خوا ته راغلي وو.

ګیدړې ورته وویل ما غوښتل چې درشم، خو ما د پښو نښې ولیدلې نو ووېرېدم. د پښو ټولې نښې ستا تر غاره درځي خو د پښو یوه نښه هم د غار څخه بېرته نه راوځي. نو ځکه زه همدلته دباندې پاتې کېږم.





K. Aronsson & S. Ottosson, *Min läsebok*. 1993. Bearbetad. Bild: I-K. Eriksson.

# د "زمري او ګيدړې" په اړه پوښتنې

د کيسې په هکله لاندينيو پوښتنو ته په هو يا نه کې ځواب ورکړئ.

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 1. ۱. آيا زمری به ټول وخت په خپل غار کې پروت و؟ | ☐ | ☐ |
| 2. ۲. آيا ګيدړه د زمري غار ته دننه شوه؟ | ☐ | ☐ |
| 3. ۳. آيا ګيدړې زمري ته ډالۍ ورکړې؟ | ☐ | ☐ |
| 4. ۴. آيا زمري هغه نور ژوي خوړلي وو؟ | ☐ | ☐ |

لاندينيو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.


5. ۵. آيا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې ووايې چې دا متن د څه په اړه دی؟

6. ۶. آيا فکر کوې چې زمری ناروغ وو؟ آيا ويلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

7. ۷. آيا ګيدړه د نورو ژوو څخه هوښياره وه؟ آيا ويلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

8. ۸. آيا فکر کوې چې د دې کيسې څخه کوم پند اخيستلای شو؟ آيا ويلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# د یو ټاپو نقشه






Anpassad med tillstånd från IEA. © 1990.

# د "نقشې" په هکله پوښتنې

د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چلیپا کش کړئ. د هرې پوښتنې په ځواب کې یواځې یوه چلیپا کش کړئ.

1 .۱ د دې ځایونو څخه کوم یو د بندر سره ترټولو نږدې پروت دی؟

A ا ☐ ښار
B ب ☐ سمندرگی
C ت ☐ فارم

2 .۲ د لاندینیو څخه کوم ځای د ښار نه شمال لور ته پروت دی؟

A ا ☐ هوايي ډگر
B ب ☐ ځنگل
C ت ☐ فارم

3 .۳ که چیرې تاسې د ښار څخه سمندرگی لور ته تلل غواړئ نو کوم لور ته به روانېږئ؟

A ا ☐ شمال
B ب ☐ لوېدیځ
C ت ☐ ختیځ

4 .۴ فکر وکړئ چه تاسې په ټاپو کې چکر وهئ. لارښوونو ته پام وکړئ.

1. .۱ د کلي څخه پیل وکړئ.
2. .۲ د بندر په لور سړک ونیسئ.
3. .۳ د دوهم چوک سره کیڼ لور ته وگرځئ.
4. .۴ د سړک تر پای پورې روان اوسئ.
5. .۵ اوس کوم ځای کې یاست؟

A ا ☐ فارم
B ب ☐ ښار
C ت ☐ بندر

## لړم – د غنو د ډلې څخه یو ژوی

په ګرمو سیمو کې د دېوالونو کوچنیو سوړو یا د ډېرو لاندې ګوتې وهل هوښیار کار نه دی. که چېرې بوټان ډېره موده په پښو شوي نه وي نو باید وځنډل شي څکه چې کېدای شي اوس تش نه وي. دا څکه چې لړمان رڼا نه خوښوي بلکه د ورځې په ترڅ کې په سوړو او یا نورو تیاره ځایونو کې ننوځي او هلته پراته وي. لړمان د ځمکې ګردچاپیره په ګرمو هېوادونو کې ژوند کوي خو زیاتره وخت یې څوک نه ویني.

## خپل ښکار په مرګ چیچي

که څه هم د لړم زیاتره ډولونه موږ انسانانو لپاره مرګوني نه وي خو بیا هم کېدای شي ډېر زهرجن وي. لړم نظر بیلابیلو ډولونو ته د یو نه نیولې تر شلو سانتي میټرو پورې اوږدوالی لري خو ټول ډولونه یې د لکۍ په څوکه کې یو زهرجن نېښ لري. کله چې لړم خپل ښکار وژني نو لکۍ په خپله ملا راتاوه کړي او خپل ښکار چې په پنجو کې یې نیولی وي، پرې وچیچي. د خطر سره مخامخ لړم چټک تاویږي ترڅو خپل نېښ تل د دښمن لور ته برابر کړي.

لړم د شپې لخوا د غټو غنو یا نورو کوچنیو خزندو ښکار کوي. دوی په خپلو پنجو خپله لار مومي، خپل ښکار پرې کلک نیسي او بیا یې په خپل زهرجن نېښ وژني.



لړم



K. Åström, *Boken om världen.* 2001. Fotografi Wikimedia Commons.

## د "لړم" په هکله پوښتنې

د متن په هکله لاندینیو پوښتنو ته په هو یا نه کې ځواب ورکړئ.

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 1. ۱. آیا لړمان تیاره خوښوي؟ | ☐ | ☐ |
| 2. ۲. آیا د لړمانو تول ډولونه انسان وژلای شي؟ | ☐ | ☐ |
| 3. ۳. آیا د لړمانو ټول ډولونه په یوه اندازه غټ وي؟ | ☐ | ☐ |
| 4. ۴. آیا لړمان خپل ښکار په پنجو باندې نیسي؟ | ☐ | ☐ |

لاندینیو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.

5. ۵. آیا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې ووایاست چې دا متن د څه په اړه دی؟

6. ۶. د لړم په هکله متن کې لیکل شوي چې بوټان باید وڅنډل شي. ستا په فکر ولې باید داسې وکړو؟ آیا ویلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# Textpaket 2



## لړم – د غنو د ډلې څخه يو ژوی

په ګرمو سيمو کې د دېوالونو کوچنيو سوړو يا د ډبرو لاندې ګوتې وهل هوښيار کار نه دی. که چېرې بوټان ډېره موده په پښو شوي نه وي نو بايد وځنډل شي ځکه چې کېدای شي اوس تش نه وي. دا ځکه چې لړمان رڼا نه خوښوي بلکه د ورځې په ترځ کې په سوړو او يا نورو تياره ځايونو کې ننوځي او هلته پراته وي. لړمان د ځمکې ګردچاپيره په ګرمو هېوادونو کې ژوند کوي خو زياتره وخت يې څوک نه ويني.

## خپل ښکار په مرګ چيچي

که څه هم د لړم زياتره ډولونه موږ انسانانو لپاره مرګوني نه وي خو بيا هم کېدای شي ډېر زهرجن وي. لړم نظر بيلابيلو ډولونو ته د يو نه نيولې تر شلو سانتي ميټرو پورې اوږدوالی لري خو ټول ډولونه يې د لکۍ په څوکه کې يو زهرجن نېښ لري. کله چې لړم خپل ښکار وژني نو لکۍ په خپله ملا راتاوه کړي او خپل ښکار چې په پنجو کې يې نيولی وي، پرې وچيچي. د خطر سره مخامخ لړم چټک تاويږي ترڅو خپل نېښ تل د دښمن لور ته برابر کړي.

لړم د شپې لخوا د غټو غنو يا نورو کوچنيو خزندو ښکار کوي. دوی په خپلو پنجو خپله لار مومي، خپل ښکار پرې کلک نيسي او بيا يې په خپل زهرجن نېښ وژني.



لړم



K. Åström, *Boken om världen.* 2001. Fotografi Wikimedia Commons.

## د "لړم" په هکله پوښتنې

د متن په هکله لاندینیو پوښتنو ته په هو یا نه کې ځواب ورکړئ.

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 1. ۱. آیا لړمان تیاره خوښوي؟ | ☐ | ☐ |
| 2. ۲. آیا د لړمانو تول ډولونه انسان وژلای شي؟ | ☐ | ☐ |
| 3. ۳. آیا د لړمانو ټول ډولونه په یوه اندازه غټ وي؟ | ☐ | ☐ |
| 4. ۴. آیا لړمان خپل ښکار په پنجو باندې نیسي؟ | ☐ | ☐ |

لاندینیو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.

5. ۵. آیا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې ووایاست چې دا متن د څه په اړه دی؟

6. ۶. د لړم په هکله متن کې لیکل شوي چې بوټان باید وڅنډل شي. ستا په فکر ولې باید داسې وکړو؟ آیا ویلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# وږسترګی سړی

یو وږسترګي سړي خپل ټول مال او جایداد وپلورل او په لاس ورغلې د سرو زرو پیسې یې ویلې کړې او یو غونډاری یې ترې جوړ کړ. د سرو زرو غونډاری یې خپل باغچه کې د یوې ونې ښخ ته ښخ کړ. هغه به هره ورځ د ونې زیارت کاوه. د ګاونډي یې یوه ورځ ورته پام شو او سمدلاسه پوه شو چې سړی په څه کې بوخت دی. کله چې وږسترګی سړی ولاړ نو ګاونډي د موقع څخه ګټه پورته کړه او د سرو زرو غونډاری یې راوویست او له ځانه سره یې یووړ.

وږسترګی سړی چې بله ورځ د خپلې خزانې لیدو لپاره راغی نو هلته یې تش یوه کنده ومونده. سړی په ژړا او د ډېر خفګان له لاسه په لاسونو مروړلو سر شو. یو ملګري سره یې چې نابېره پر دغه لار روان و، پوښتنه پیدا شوه چې څه پیښه شوې ده. وږسترګي سړي ورته ټوله کیسه تېره کړه.

ملګري ورته وویل چې ښه تش همدومره خبره ده، دا خو هیڅ د خواشینۍ خبره نه ده. ځکه چې سره زر خو په حقیقت کې هیڅ کله ستا نه وو. یوه ډبره واخله او په کنده کې یې کېږده او داسې وګڼه چې د سرو زرو غونډاری دی. دا به ستا لپاره هماغومره خوشالي او ګټه ولري.



Efter Aisopos. Bearbetad och översatt från svenska.

# د "وږسترګي سړي" په هکله پوښتنې

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چليپا کش کړئ. د هر ځواب لپاره يواځې يوه چليپا کش کړئ.**

1 **.۱ وږسترګي سړي د سرو زرو غونډارۍ څنګه ترلاسه کړ؟**

A ا ☐ د خپل ګاونډي څخه يې واخيست.
B ب ☐ د پيسو څخه يې جوړ کړ.
C ت ☐ په باغچه کې يې وموند.

2 **.۲ وږسترګي سړي ولې هره ورځ د ونې زيارت کاوه؟**

A ا ☐ د نورو سرو زرو ښخولو لپاره.
B ب ☐ د خپلو سرو زرو راويستلو لپاره.
C ت ☐ د خپلو سرو زرو ساتنې لپاره.

3 **.۳ د دې کيسې څخه څه پند اخيستلای شو؟**

A ا ☐ دا چې خپله شتمني بايد د نورو سره شريکه کړو.
B ب ☐ دا چې يواځې هغه شتمني سړي ته خوشالي ورکوي کومه چې په کار راځي.
C ت ☐ دا چې سړی بايد د خپلو ګاونډيانو او ملګرو خبرو ته غوږ کېږدي.

**لاندينيو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.**

4 **.۴** آيا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې ووايې چې دا متن د څه په اړه دی؟

5 **.۵** ستا په اند وږسترګي سړي ولې خپل ټول مال او جايداد وپلورل؟ آيا ويلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

6 **.۶** ملګري يې ولې فکر کاوه چې پر ځای دې يوه ډبره په کنده کې ښخه کړي؟ آيا ويلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# چپس



چپس

چپس د کچالانو نري وريته شوي ټيکليو ته وايي او دا د ۱۸مې پېړۍ د نامتو اختراعو څخه شمېرل کېږي. دا چې د چپسو په راويستلو او پلورلو چا لاس پورې کړ، په دې هکله ګڼ شمېر کيسې شتون لري او دا نږدې ناشونې ده چې د دغو کيسو رښتيا او دروغ سپين کړو.

تر ټولو زياته مشهوره کيسه د جارج کروم نومې اشپز په هکله ده. ښاغلي کروم د کال ۱۸۵۳ د اګست په ۲۴مه نېټه د يو ناخوښ پېرودونکي خوشالولو هڅه وکړه. هغه د کچالو نري ټيکلي غوړ کړل بيا يې وريته کړل او مالګه يې پرې وشيندله چې په پايله کې د پېرودونکي ناخوښي په خوښۍ بدله شوه. دا کيسه کېداى شي يو څه حقيقت ولري خو څرګنده ده چې په نوموړې پېړۍ کې نورو اشپزانو هم دا راز مفکورې درلودلې. يواځې په امريکا کې چپسو ته ورته توکي د وخت يو څو د اخلي پخلي په کتابونو کې ذکر شوي او په نورو شکلونو کې يې په برتانيه کې هم پرمختګ موندلی و.

په پلورنځيو کې د چپسو پلور په لومړي ځل د ۱۸۹۰ په لسيزه کې پيل شو خو د چپسو توليد او پلور کې رښتينی زياتوالی د ۱۹۲۰ لسيزې په پاې کې د وريتونکي ماشين راوتلو څخه وروسته رامنځته شو کله چې نوموړي ماشين د چپسو پخلي کې تر ډېره حده اسانتيا راوسته. ورپسې لسيزه کې سربېره پر نورو بدلونونو د چپسو پاکټونو کې هم بدلون منځته راغی ترڅو چپس په امريکا کې لرې پرتو سيمو ته وويشل شي. خو د اروپا په پلورنځيو کې د چپسو پراختيا تر د ۱۹۵۰ لسيزې پورې وځنډېده.



D. Harrison, Historiebloggen. www.svd.se (publicerad 2014-09-28) Bearbetad. Fotografi Pixabay.

# د "چپسو" په هکله پوښتنې

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چلیپا کش کړئ. د هر ځواب لپاره یواځې یوه چلیپا کش کړئ.**

1 **۱. لیکونکي ولې دا متن لیکلی دی؟**

A ا ☐ لوستونکی د چپسو تاریخ څخه خبرولو لپاره.
B ب ☐ د یوې په زړه پورې کیسې له لارې د لوستونکي ساعت تېرولو لپاره
C ت ☐ لوستونکي ته د چپسو پخولو چل ښودلو لپاره.

2 **۲. آیا د چپسو اختراع کونکی مالوم دی؟**

A ا ☐ هو، دا جارج کروم و.
B ب ☐ نه، ګڼ شمېر امکاني کسان شتون لري.
C ت ☐ نه، خو دا مالومه ده چې کوم ځای کې اختراع شو.

**د لاندینیو څرګندونو څخه کومې په متن کې د چپسو په هکله وړاندې شوي مالوماتو سره سمون خوري؟ د هرې څرګندونې څخه وروسته د هو یا نه چوکاټ کې چلیپا کش کړئ.**

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 3 **۳.** مورډ اتکلي پوهېږو چې د کومې زمانې څخه چپس خوړل کېږي. | ☐ | ☐ |
| 4 **۴.** اروپا په نړۍ کې لومړۍ سیمه وه چېرې چې چپس وپلورل شول. | ☐ | ☐ |
| 5 **۵.** په ۱۹مه پېړۍ کې د چپسو د زیات خوراک د یو څخه ډېر لاملونه شتون لري. | ☐ | ☐ |

**لاندینۍ پوښتنې ته په خوله ځواب ورکړئ.**

6 **۶.** آیا کولای شې په لنډو او خپلو الفاظو کې وواياست چې دا متن د څه په اړه دی؟

# Textpaket 3



## لړم – د غنو د ډلې څخه یو ژوی

په ګرمو سیمو کې د دېوالونو کوچنیو سوړو یا د ډبرو لاندې ګوتې وهل هوښیار کار نه دی. که چېرې بوټان ډېره موده په پښو شوي نه وي نو باید وڅنډل شي څکه چې کېدای شي اوس تش نه وي. دا څکه چې لړمان رڼا نه خوښوي بلکه د ورځې په ترخ کې په سوړو او یا نورو تیاره ځایونو کې ننوځي او هلته پراته وي. لړمان د ځمکې ګردچاپیره په ګرمو هېوادونو کې ژوند کوي خو زیاتره وخت یې څوک نهویني.

## خپل ښکار په مرګ چیچي

که څه هم د لړم زیاتره ډولونه موږ انسانانو لپاره مرګوني نه وي خو بیا هم کېدای شي ډېر زهرجن وي. لړم نظر بیلابیلو ډولونو ته د یو نه نیولې تر شلو سانتي میترو پورې اوږدوالی لري خو ټول ډولونه یې د لکۍ په څوکه کې یو زهرجن نېښ لري. کله چې لړم خپل ښکار وژني نو لکۍ په خپله ملا راتاوه کړي او خپل ښکار چې په پنجو کې یې نیولی وي، پرې وچیچي. د خطر سره مخامخ لړم چټک تاویږي ترڅو خپل نېښ تل د دښمن لور ته برابر کړي.

لړم د شپې لخوا د غټو غنو یا نورو کوچنیو خزندو ښکار کوي. دوی په خپلو پنجو خپله لار مومي، خپل ښکار پرې کلک نیسي او بیا یې په خپل زهرجن نېښ وژني.



لړم



K. Åström, *Boken om världen.* 2001. Fotografi Wikimedia Commons.

# د "لړم" په هکله پوښتنې

د متن په هکله لاندینیو پوښتنو ته په هو یا نه کې ځواب ورکړئ.

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 1. ۱. آیا لړمان تیاره خوښوي؟ | ☐ | ☐ |
| 2. ۲. آیا د لړمانو ټول ډولونه انسان وژلای شي؟ | ☐ | ☐ |
| 3. ۳. آیا د لړمانو ټول ډولونه په یوه اندازه غټ وي؟ | ☐ | ☐ |
| 4. ۴. آیا لړمان خپل ښکار په پنجو باندې نیسي؟ | ☐ | ☐ |

لاندینیو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.

5. ۵. آیا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې وواياست چې دا متن د څه په اړه دی؟

6. ۶. د لړم په هکله متن کې لیکل شوي چې بوټان باید وڅنډل شي. ستا په فکر ولې باید داسې وکړو؟ آیا ویلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# چپس



چپس

چپس د کچالانو نري وريته شوي ټيکليو ته وايي او دا د ۱۸مې پېړۍ د نامتو اختراعو څخه شمېرل کېږي. دا چې د چپسو په راويستلو او پلورلو چا لاس پورې کړ، په دې هکله ګڼ شمېر کيسې شتون لري او دا نېږدې ناشونې ده چې د دغو کيسو رښتيا او دروغ سپين کړو.

تر ټولو زياته مشهوره کيسه د جارج کروم نومې اشپز په هکله ده. ښاغلي کروم د کال ۱۸۵۳ د اګست په ۲۴مه نېټه د يو ناخوښ پېرودونکي خوشالولو هڅه وکړه. هغه د کچالو نري ټيکلي غوړ کړل بيا يې وريته کړل او مالګه يې پرې وشيندله چې په پايله کې د پېرودونکي ناخوښي په خوښۍ بدله شوه. دا کيسه کېداى شي يو څه حقيقت ولري خو څرګنده ده چې په نوموړې پېړۍ کې نورو اشپزانو هم دا راز مفکورې درلودلې. يواځې په امريکا کې چپسو ته ورته توکي د وخت يو څو د اخلي پخلي په کتابونو کې ذکر شوي او په نورو شکلونو کې يې په برتانيه کې هم پرمختګ موندلی و.

په پلورنځيو کې د چپسو پلور په لومړي ځل د ۱۸۹۰ په لسيزه کې پيل شو خو د چپسو توليد او پلور کې رښتينی زياتوالی د ۱۹۲۰ لسيزې په پاې کې د وريتونکي ماشين راوتلو څخه وروسته رامنځته شو کله چې نوموړي ماشين د چپسو پخلي کې تر ډېره حده اسانتيا راوسته. ورپسې لسيزه کې سربېره پر نورو بدلونونو د چپسو پاکټونو کې هم بدلون منځته راغی ترڅو چپس په امريکا کې لرې پرتو سيمو ته وويشل شي. خو د اروپا په پلورنځيو کې د چپسو پراختيا تر د ۱۹۵۰ لسيزې پورې وځنډېده.



D. Harrison, Historiebloggen. www.svd.se (publicerad 2014-09-28) Bearbetad. Fotografi Pixabay.

# د "چپسو" په هکله پوښتنې

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چليپا کش کړئ. د هر ځواب لپاره يواځې يوه چليپا کش کړئ.**

1 **.۱ ليکونکي ولې دا متن ليکلی دی؟**

A ا ☐ لوستونکی د چپسو تاريخ څخه خبرولو لپاره.
B ب ☐ د يوې په زړه پورې کيسې له لارې د لوستونکي ساعت تېرولو لپاره
C ت ☐ لوستونکي ته د چپسو پخولو چل ښودلو لپاره.

2 **.۲ آيا د چپسو اختراع کونکی مالوم دی؟**

A ا ☐ هو، دا جارج کروم و.
B ب ☐ نه، ګڼ شمېر امکاني کسان شتون لري.
C ت ☐ نه، خو دا مالومه ده چې کوم ځای کې اختراع شو.

**د لاندينيو څرګندونو څخه کومې په متن کې د چپسو په هکله وړاندې شوي مالوماتو سره سمون خوري؟ د هرې څرګندونې څخه وروسته د هو يا نه چوکاټ کې چليپا کش کړئ.**

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 3 **.۳** مور اټکلي پوهېږو چې د کومې زمانې څخه چپس خوړل کېږي. | ☐ | ☐ |
| 4 **.۴** اروپا په نړۍ کې لومړۍ سيمه وه چېرې چې چپس وپلورل شول. | ☐ | ☐ |
| 5 **.۵** په ۱۹مه پېړۍ کې د چپسو د زيات خوراک د يو څخه ډېر لاملونه شتون لري. | ☐ | ☐ |

**لاندينۍ پوښتنې ته په خوله ځواب ورکړئ.**

6 **.۶** آيا کولای شې په لنډو او خپلو الفاظو کې وواياست چې دا متن د څه په اړه دی؟

# خوب

**انسانان دې او که ژوي ټول خوب ته اړتيا لري. خو ولې؟ د دې پوښتنې ځواب څېړونکو سره هم نشته او نه د دې پوښتنې ځواب چې د خوب په وخت کې څه پېښېږي. خو په دې کې هيڅ شک نشته چې موږ ويده کېدو ته اړتيا لرو. د ويده کېدو پرته موږ مرو.**

ويده کېدل يو ډول دمه ده. خو تاسې د خوب په وخت په ځان نه پوهيږئ چې شاوخوا ته مو څه پيښيږي. ويېلای شو چې تاسې د خوب په وخت کې يو ډول بې هوښه ياست. خو دومره ژور بې هوښه هم نه چې څوک مو راويښ نه کړای شي.


### د خوب دوران

خوب په پرله پسې دورانونو کې ترسره کېږي چې هر دوران يې نږدې۹۰ دقيقې نيسي. د خوب هر دوران په پنځو پړاوونو کې وېشل شوی وي، د خوب دوران انځور وګورئ.

### د سترګو چټک ښورېدو خوب او ژور خوب

پنځم پړاو د د سترګو چټک ښورېدو خوب په نوم يادېږي. په دې حالت کې سترګې په چټکۍ سره حرکت کوي او همدا مهال موږ خوبونه وينو. د خوب ليدل سرسري خوب وي ياني موږ دومره ژور ويده نه يو. د سترګو چټک ښورېدو خوب وروسته له هرو۹۰ دقيقو څخه بېرته راګرځي او زموږ د خوب دوران څلورمه برخه جوړوي. د خوب يو بل پړاو د ژور خوب په نوم يادېږي. په دې حالت کې بدن خپله ستومانتيا وباسي او موږ د نويو چارو زده کولو کې لاپسې پياوړي کېږو. د ژور خوب په وخت پوهه غښتلې کېږي ترڅو په آسانۍ زموږ حافظه کې ونښلي.

**د خوب دوران**




### خوب پوره کول

که چيرې تاسې يوه شپه تر ناوخته ويښ پاتې شئ نو کېدای شي فکر وکړئ چې ورپسې شپه بايد يو په دوه خوب وکړئ. خو داسې نه ده. بدن له لاسه تللي خوب پوره کولو کې ډېر مهارت لري. که چيرې تاسې لږ خوب کړی وي نو د ژور ويده کيدو له لارې يې بېرته پوره کوئ.



H. Borgström, Kroppens mysterier. 2010. Bearbetad. Figur G. Wallentin.

# د "خوب" په هکله پوښتنې

**د لاندینیو څرګندونو څخه کومې د خوب په هکله متن کې وړاندې شوي مالوماتو سره سمون خوري؟ د هرې څرګندونې څخه وروسته د هو یا نه چوکاټ کې چلیپا کش کړئ.**

| | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|
| 1 **.۱** څېړونکي پوهیږي چې انسانان ولې خوب ته اړتیا لري. | ☐ | ☐ |
| 2 **.۲** سړی د سترګو چټک ښورېدو خوب په وخت سرسري ویده وي. | ☐ | ☐ |
| 3 **.۳** موږ د شپې زیاتره برخه په خوب لیدلو تېروو. | ☐ | ☐ |
| 4 **.۴** د وروسته په پرتله د سترګو چټک ښورېدو خوب څخه مخکې راویښېدل آسانه دي. | ☐ | ☐ |

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چلیپا کش کولو له لارې نیمګړې جمله بشپړه کړئ. یوازې یو چوکاټ کې چلیپا کش کړئ.**

5 **.۵ که چیرې یو کس یوه یا دوه شپې کم خوب کړی وي...**

A ا ☐ نو ورپسې شپه باید یو په دوه خوب وکړي ترڅو خپل خوب پوره کړي.
B ب ☐ نو ورپسې شپه بدن د ژور ویده کېدو له لارې خوب پوره کوي.
C ت ☐ نو ورپسې شپه باید نور هم د وخته ویده شي ترڅو له لاسه تللی خوب پوره کړي.

**لاندینۍ پوښتنې ته په خوله ځواب ورکړئ.**

6 **.۶** آیا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې وواياست چې دا متن د څه په اړه دی؟

# شيدې
## يوې ورځپاڼې ته رالېږل شوي ليکونه

په سويډن کې ټولو زده کونکو ته د غرمې ډوډۍ ورکول کېږي او د خوړو سره زياتره وخت شيدې مخې ته ايښودل کېږي. په دې وروستيو کې په دې اړه چې آيا شيدې څښل په رښتيا سره کومه ګټه لري، بحثونه راپورته شوي دي. په ښوونځي کې د شيدو څښلو په هکله لاندې د دوو کسانو دريځ لوستلای شئ.

1

### د ښوونځي ماشومانو ته د شيدو پر ځای اوبه ورکړئ

**په ښوونځي کې د غوا شيدې څښل د طبيعت سره سمون نه خوري. انسان د ځمکې پر مخ يواځينی توکم دی چې د يو بل ذات شيدې څښي.**

د اوپسالا پوهنتون له لورې ترسره شوې يوه پراخه څېړنه چې د تېرې چهارشنبې په ورځ په ورځپاڼه کې خپره شوې ده، د غوا شيدو په هکله زموږ له ډېرې مودې راهيسې منل شوي ګومانونه په بله مخه اړوي. څېړونکو موندلې چې د شيدو ډېر څښاک د لنډ ژوند او د زيات شمېر هډوکو ماتېدلو سره تړاو لري.

د غوا شيدې نه د طبيعت سره سمون خوري او نه د خلکو روغتيا او چاپيريال لپاره ګټه لري. نو څکه اوس وخت رارسېدلی چې د غوا شيدې د ښوونځيو څخه لرې کړو او د دې پر ځای ماشومانو ته د څښاک نور خويونه ورزده کړو چې د چاپيريال لپاره هم ګټور وي: ياني تنده دې په اوبو باندې ماته کړي.

**آندرش سوېنسون**
د سابه وخورئ نومې ټولنې استاذی

2

### د ښوونځي خوړو سره شيدو ته اړتيا ده

آندرش سوېنسون ته ځواب

**آندرش سوېنسون نه غواړي چې ماشومان دې په ښوونځي کې شيدې وڅښي. موږ او ملګري ملتونه برعکس فکر لرو او هغه دا چې ټول ماشومان په ښوونځي کې په وړيا توګه د شيدو څښلو حق لري.**

په شيدو کې د ۲۲ د جملې څخه ۱۸ هغه خوراکي توکي شتون لري چې موږ هره ورځ ورته اړتيا لرو او د ښوونځي په ساعتونو کې ماشومانو ته د سم خوراک رسېدو ډاډ راکوي. په کومو هېوادونو کې چې د خوړو کمښت شتون لري هلته د ښوونځي له لورې شيدې د زيات شمېر ماشومانو لپاره د خوراکي توکو يوه حياتي سرچينه ثابتېدای شي. سربېره پر دې تازه څېړنو جوته کړې چې که چېرې کوچنيانو ته د خوړو په څنګ کې شيدې ورنکړل شي نو يواځې د ښوونځي د غرمې ناری په کافی اندازه خوراکي توکي نه لري.

د کرېستيانستاد پوهنتون د خوراکي توکو څېړونکې اغلې اولا روساندر د سويډن د يو ښار په دريو ښوونځيو کې په هغو خوړو کې د خوراکي توکو شننه کړې کوم چې ۱۰ کلنو ماشومانو ته د يوې اونۍ په ترڅ کې د غرمې ډوډې په وخت ورکول کېدل. په دغو ښوونځيو کې د غرمې خواړه يو ډول وو. پايلو په ډاګه کړه چې د خوړو په خوا کې شيدې څښل اړينې دي، په تېره هغو ماشومانو لپاره چې کم خوراک کوي او يا د غرمې تفريح په وخت کافي اندازه خوراک کولو ته وخت نه مومي. شيدو ته اړتيا وه ترڅو ماشومان سربېره پر نورو په کافي اندازه کالسيم، ويټامين بي ۱۲ او مګنيزيم بدن ته جذب کړي. له دې لامله شيدې په ښوونځي کې يو څرګند ځای لري.

**پېټرا ستراندبيری**
د سويډن د ګوجرانو د ټولنې استاذې


J. Paulsson & J. Carlberg, Insändare. Upsala Nya Tidning. Publicerade 2014-11-04 och 2014-11-11. (Bearbetade)

## د "شیدو په هکله ورځپاڼې ته رالېږل شوي لیکونو" ته اړونده پوښتنې

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چلیپا کش کړئ. د هر ځواب لپاره یواځې یوه چلیپا کش کړئ.**

**1 .۱ ستراندبیري ولې انګېري چې شیدې د ښوونځي ماشومانو لپاره اړینې دي؟**

A ا ☐ ماشومان د شیدو له کبله په ښوونځي کې زیات خوراک کوي.
B ب ☐ د شیدو په وسیله د انسان عمر اوږدیږي.
C ت ☐ په شیدو کې ګڼ شمېر خوراکي توکي شتون لري.

**2 .۲ سوېنسون ولې فکر کوي چې د ښوونځي ماشومان دې د شیدو پر ځای اوبه وڅښي؟**

A ا ☐ اوبه د شیدو په پرتله ارزانه دي.
B ب ☐ اوبه د چاپېریال لپاره ګټورې دي.
C ت ☐ اوبه په غوره توګه تنده ماتوي.

**3 .۳ د متن له مخې څېړنو کومې پایلې رابرسېره کړي؟**

A ا ☐ دا چې شیدې څښل دواړه منفي او مثبتې اغیزې لري.
B ب ☐ دا چې د ښوونځي خواړه د شیدو پرته هم په زیاته کچه خوراکي توکي لري.
C ت ☐ د شیدو زیات مصرف هډوکي پیاوړي کوي.

**4 .۴ ستراندبیري ولې ورځپاڼې ته لیک لیږلی؟**

A ا ☐ هغه غواړي چې سپینه کړي چې سوېنسون ولې په غلطه دی.
B ب ☐ هغه غواړي چې روښانه کړي چې اوبه ولې د چاپېریال لپاره ګټورې دي.
C ت ☐ هغه نه غواړي چې ماشومان دې په ښوونځي کې کم خوراک وکړي.

**د لاندینیو څرګندونو څخه کومې په متن کې د شیدو په هکله وړاندې شوي مالوماتو سره سمون خوري. د هرې څرګندونې څخه وروسته د هو یا نه په چوکاټ کې چلیپا کش کړئ.**

| | | (Ja) هو | (Nej) نه |
|---|---|---|---|
| 5 .۵ | سوېنسون دعوه کوي چې د زیاتو شیدو څښلو له امله د انسان د ژوند موده لنډیږي. | ☐ | ☐ |
| 6 .۶ | سوېنسون او ستراندبیري په خپلو لیکونو کې هم یو څېړونکي ته اشاره کړې. | ☐ | ☐ |
| 7 .۷ | داسې برېښي چې څېړونکي د شیدو اغېزو په هکله هم نظره دي. | ☐ | ☐ |

**لاندینیو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.**

8 .۸ آیا کولای شې په لنډو او په خپلو الفاظو کې ووایاست چې دا متن د څه په اړه دی؟

9 .۹ د دواړو متنونو څخه کوم یو ستاسې لپاره ترټولو ډېر د منلو وړ و؟ آیا ویلی شې چې ولې داسې فکر کوې؟

# د نړۍ ښارونه په چټکۍ سره پراخېږي

د خلکو ښارونو لور ته مخه کولو بهير په ټوله نړۍ کې دوام لري او ورځ تر بلې ګړندی کېږي. د ملګرو ملتونو اټکل له مخې ټمه ده چې د ښارونو نفوس تر کال ۲۰۵۰ پورې ۴.۲ مليارډو وګړو ته ورسېږي. د دې لپاره چې ټولو ته د اوسېدو ځای پيدا شي امکان لري چې د ښارونو پراخوالی د هند مساحت په اندازه وغځېږي.

د ۱۹مې پېړۍ په ترڅ کې د نړۍ په کچه د ښاري نفوسو شمېر د ۲۲۰ مليونو څخه ۸.۲ مليارډو وګړو ته ورسېد. او د ملګرو ملتونو په وينا په کال ۲۰۰۸ کې په لومړي ځل د کليوالو سيمو په پرتله زيات خلک په ښارونو کې ميشت وو.


په کال ۲۰۱۳ کې د نړۍ په کچه د ښارونو نفوس ۶.۳ ميلياردە خلک اټکل شوی، خو د ملګري ملتونو اټکلونو له مخې ټمه ده چې په کال ۲۰۳۰ کې د نفوسو شمېر ۵ مليارده وګړو ته ورسېږي او په کال ۲۰۵۰ کې په ۶ مليارډو پېښه واړوي. په اروپا، شمالي او سويلي امريکا کې اوس هم د خلکو اکثريت په ښارونو کې اوسېږي حال دا چې افريقا او آسيا په ښارونو کې د نفوسو يو د ننداري وړ زياتوالي په درشل کې ولاړې دي.

**پراخېدونکي ښارونه هم يوه ستونزه او هم يو امکان**

پراخېدونکي ښارونه له څو اړخه يوه ستره ننګونه ده ځکه چې په ښارونو کې د استوګن کېدو چټک بهير دواړه روغتيايي او د چاپيريال ستونزې رامنځته کوي. همدا راز د هوا ککړتيا او د پاکوالي شرايطو نه شتون هم يوه ستره ستونزه ده.  خو د دې سره سره د ښارونو پراخوالی د ګڼ شمېر خلکو لپاره نوي امکانات برابروي، د بېلګې په توګه د کار زيات فرصتونه، د روغتيايي خدمتونو غوره والی او ورسره د زده کړو زمينه چې دا ډول امکانات په کليو کې شتون نه لري.

دا چې ګڼ شمېر خلک سره خوا په خوا اوسېږي دا مانا هم لري چې د انرژۍ او ترانسپورټ اړتياو کې کمښت منځته راځي کوم چې په خپل وار په آب او هوا باندې فشار کمولو کې مرسته کوي.

**د کال ۱۹۶۱ نه تر ۲۰۱۲ پورې د نفوس زياتوالی او د کال ۲۰۱۳ نه تر ۲۰۵۰ په هکله اټکل**






J. Moström, *www.scb.se* (publicerad 2013-10-10)

# "د نړۍ ښارونه په چټکۍ سره پراخېږي" متن په هکله پوښتنې

**د مناسب ځواب مخې ته چوکاټ کې چلیپا کش کړئ.  د هر ځواب لپاره یواځې یوه چلیپا کش کړئ.**

1 **.۱ د متن له مخې د خلکو ښارونو ته مخه کولو ترټولو ستره منفي اغیزه کومه یوه ده؟**

A ا ☐ د ښارونو چاپیریال خرابېږي.

B ب ☐ ښارونه پراخېږي.

C ت ☐ د ترانسپورت اړتیا زیاتېږي.

2 **.۲ شاوخوا څومره خلک اټکل کېږي چې په کال ۲۰۴۰ کې به په ښارونو کې استوګن وي؟**

A ا ☐ شاوخوا ۶.۴ ملیارده

B ب ☐ شاوخوا ۳.۶ ملیارده

C ت ☐ شاوخوا ۵.۷ ملیارده

3 **.۳ د متن له مخې د ښارونو نفوس زیاتېدو ترټولو ستر لامل څه دی؟**

A ا ☐ په ښارونو کې د چاپیریال غوره ساتنه کېږي.

B ب ☐ په ښارونو کې د ژوند شرایط غوره دي.

C ت ☐ په ښارونو کې یو ځای بل ځای کېده کول آسانه دي.

4 **.۴ په ۱۹۶۱ کال کې د ښارونو او کلیو نفوس ترمنځ وېش په کوم ډول و؟**

A ا ☐ د ښارونو په پرتله په کلیو کې نږدې دوه برابره خلک استوګن وو.

B ب ☐ د کلیو په پرتله په ښارونو کې ګڼ شمېر خلک استوګن وو.

C ت ☐ په ښارونو او کلیو کې یو برابر خلک استوګن وو.

**لاندینیو پوښتنو ته په خوله ځواب ورکړئ.**

5 **.۵** آیا کولای شئ چې په لنډو او په خپلو الفاظو کې وواياست چې دا متن د څه په اړه دی؟

6 **.۶** په متن کې لیکل شوي چې د وخت په تېرېدو سره به لازیات شمېر خلک په ښارونو کې اوسېږي. ستاسې په اند په کلیواله سیمه کې اوسېدل کومې ګټې لري؟ آیا ویلې شئ چې ولې داسې انګېرئ؟

## Litteraturförteckning

Aisopos. Den girige. I: *Aisopos' fabler*. Ny översättning av Erik Hedén med illustrationer av Arthur Rackham. 1919. Stockholm: Svenska andelsförlaget. (bearbetad)

Aronsson, Karin & Stellan Ottosson, 1993. Lejonet och räven. I: K. Aronsson & S. Ottosson; illustrationer I-K Eriksson & M. Korotyńska, *Min läsebok Blå rosen*. 2:a uppl. Stockholm: Liber. (bearbetad)

Borgström, Håkan, 2010. Sover kroppen när du sover? I: H. Borgström. 2010. *Kroppens mysterier*. Enskede: Borgströms Förlag. (bearbetad)

Carlberg, Jonas, 2014. Mjölken behövs till skolmaten. *Upsala Nya tidning*. Insändare. Publicerad 2014-11-11. (bearbetad)

*En karta över en ö*. Kartan och frågorna anpassade från IEA Reading Literacy Study. © 1990. International Association for the Evaluation of Educational Achievement (IEA). The Hague: International Association for the Evaluation of Educational Achievement (IEA), IEA Secretariat[1].

Harrison, Dick, 2014. Hur länge har vi ätit potatischips? Historiebloggen. *Svenska Dagbladet* http://blog.svd.se/historia/2014/09/28/hur-lange-har-vi-atit-potatischips/?fromMobile=true Publicerad 2014-09-28.
Hämtad 2014-10-19. (bearbetad)

Moström, Jerker, 2013. Världens städer växer allt snabbare. SCB. Statistiska centralbyrån. http://www.scb.se/sv_/Hitta-statistik/Artiklar/Varldens-stader-vaxer-allt-snabbare/# Publicerad 2013-10-10. Hämtad 2015-01-08. (utdrag)

Paulsson, Jonas, 2014. Ge barnen havremjölk i stället. *Upsala Nya Tidning*. Insändare. Publicerad 2014-11-04. (bearbetad)

Åström, Karin, 2001. Skorpionen – ett spindeldjur med gadd. I: S. Andersson, K. Åström & S. Rune. *Boken om världen*. Stockholm: Liber. (Utdrag)

## Bildförteckning

Lejonet och räven. Eriksson, Inga-Karin, 1993. I: K. Aronsson & S. Ottosson; illustrationer I-K Eriksson & M. Korotyńska, *Min läsebok Blå rosen*. 2. uppl. Stockholm: Liber.

Fotografi på skorpion. Hämtad 2015-06-24
https://upload.wikimedia.org/wikipedia/commons/6/6d/Emperor_scorpion_or_Imperial_scorpion_(Pandinus_imperator).jpg

Fotografi på potatischips. Hämtad 2015-02-03
https://pixabay.com/p-476359/?no_redirect

[1] Att IEAs skrifter, studiematerial och undersökningar med organisationens tillstånd får användas för forsknings- och utbildningsändamål ska inte tolkas som att IEA medverkat i eller godkänt någon del av forskningen, eller rapporteringen kring den, eller de utbildningsprogram vari materialet används.